پوهندی وی دوکتور سیدحسام «مل» .

-----------------------------

## پاکستنان دخپل تجزیه کید و د مخنیوی په وجهه نه غواړی چی په افغانستان کی یو ملی باثبات دولت مینځ ته راشي

------------------------------------------------------

### دریمه برخه

****

### ۴- په افغانستان کی د نها دونو ، موسساتو ،احزابواود میلیتونوددریځو پرتفا وتونودپاکستان دمداخلاتو په اړه اودافغانستا ن دغلیما نو پرستراتیژیکی اهدافو با ندي تمید ل

دلته نور دشک اود شبهه ځای پا تی نه دی چی سړی له دی نه سترګی پټي کړی چی پاکستان دافغانستان په داخلی اوخارجی اموراتو کی لاس نه وهی ، مونږ مخکی ځو واری یاد کړ چی پاکستان له خپل ایجاد څخه بیا تر اوسه په پټ اوپه ښکاره بنی سره دافغانستان په چارو کی لاس وهی . دبیلګی په بڼه : پاکستان دپردی ترشا د خپل دوه ګونی پالیسی په رعا یت سره دمجا هید ینو اود طالبانو دحکومتونو په وجود کی تر دی ځایه پوری ورسید چی افغانی مجاهدین اوطا لبا ن خپل ملی اووګړنی ګڼتی داسلامی ایدیولوژی ګڼتی په پرتله ناچیز وګڼل او دافغانستان په چارو کی د پاکستان لاس وهنه داسلام دپرمختګ دپاره دپاکستان اسلامی رسالت ومنل اوزمونږ ملی هویت اوافغانی ویاړنی دأمت ترسیوری لاندی قرار ورکړ کوم چی حتی دافغانی مجاهیدنو ځنی کړی او حلقی دی ته ځپل چمتوالی ښکاره کړ چی زمونږهیواد داسلامی فدراسیون تر نا مه دپاکستان سره یوځای کړي . نو په دی بنیاد دافغانستان جهادی رهبران او دهغو پلویان کوم چی دجهاد په وخت کی پاکستانی فرهنګ سره یی عادت کړی ،هغو ته وطن ، خلک ، غرور ملی ، تاریځی افتخارات او ........ ډیر بی ارزش ښکا ری اوهر هغه څه چی پاکستان هغوی ته هدایت ورکړی همغه هدایت تر سره کوی ، خصوصاً که نواز شریف

هغو ته هدایت ورکړی : نواز شریف څوک دی ؟ نوازشریف دپاکستان یوله هغه پاکستانی مذهبی ناسیونالست سیا ستمدارانو څخه دی چی دخپل هیواد بریالیتوب دګاونډی هیوادونو په کمزوری اوکم بغلی کی ګوري، هغه یعنی نواز شریف په پاکستان کی ددریم ځل دپاره دلمړی وزیر مقام ته رسیږی ،د مسلم لیګ نواز ځانګه دپاکستان یوله ډیر لوی سیاسیی ګوند څخه دی چی دجنګ په دوران کی د اسلامیګرایی ایدیولوژی پربنسټ د بورژوازی په ګډ ون اومرستی سره شکل ونیول ، نواز شریف د پاکستان یوله هغه غټو سرمایه دارانو څخه دی چی د پاکستان ټول اقتصادی شاه رګ دهغه اودهغه دکورنی په لاس کی دی ، هغه اقتصاد کوم چی «نوازشریف» هغه ته مافیایی شکل ورکړی ، سرانجام نوازشریف هغه کس دی چی د افغا نستا ن سل کلن اردو یا پوځ دافغانی مجاهیدینو پواسطه سره دمینځه ویوړل اود خا وری سره خا وری کړ ، کوم چی هغه دپاکستان اسامبلی ته په ډاګه وویل چی دافغانستان داردو دړی وړی کید ل ځما دخارجی سیاست یوله افتخاراتو څخه دی چي افغانستان می له هر پلوه کمزور اوکم بغل کړ. نو په دی وجهه ویلی شوچی په افغانستان کی دغه موجوده حکومت په واقیعت کی دنواز شریف دلاس محصول دی .اودغه حکومت اودهغه پوری تړلی ټول لوړپوی چارواکی نشی کولی چی د پاکستان په مقابل کی خپل خوله خلاصه کړی، یا دپاکستان په وړاندی پخپل خارجی سیاست کی یوه رغنده پالیسی غوره کړی ، حتی تردی حده پوری چی پاکستانی اردو پر کنړ باندی هره ورځ راکټ ولی اما دافغانستان دولت دومره جرءت نه لری چی خپل احتجاج څرګند کړی یا په دی مورد کی یوه اعلامیه ورکړی یا حداقل یو احتجاجیه لیک ملګرو ملتونو ته ولیږی یا دپا کستان سفیر راوغواړی اوهغه ته خپل احتجاجیه لیک وروسپاری . په هرصورت نن په افغانستان کی هیڅ داسی یونهاد یا یو قوت نه تر سترګو کیږی چی دپاکستان مخه ونیسی و دلته ځما دوه دسترګو لید لی حال راپه یاد شو : لمړی : یوه ورځ ننګرهار ته دځنی رسمی کارونو دسرته رسولو دپاره تللی اوم ، دغرمی ډوډی می دمحترم ولی «زیارمل » دننګرها دوالی سره وخوړل ، وروسته له ډوډی خوړلو څخه ملګری زیارمل دننګرهار والی ماته وویل ، مل صیب ما مخکی دغازی آباد باغوانون ته هدایت ورکړی وه چی یو څو لاری ما لتی را ټول کړی ، او زه غواړم چی دغه څومتر ټول کړل شوی ما لتی نازیا نو ته چی هلته زمونږ سرتیری پروت دی اود وطن څخه ساتنه کوی هغو ته ویوسم اوپر هغو باندی وویشم نو ملګری مل که ته وخت لری نو راځه چی دواړه سره لاړ شو ، ما هم دملګری زیارمل خبره ومنل او د نازیا نو په لور روان شولو ، نوکله چی هغه ځای ته ورسیدو نو سمدستی دملګری جنرال افضل لودین قرارګاه ته لاړو اودهغه سره موسترړی مشی وکړ ، ملګری جنرال لودین موظفو کسانو ته هدایت ورکړ چی مالتی پر سربازانو باندی وویشی یا هغو ته دډوډی په خونه کی ځای پر ځای کړی ، د لته لا یوه ګړی تیر

شوی نه وه یا مونږ لا یوه پیاله چای نه وه څښلی چی د پاکستان له لوری څو راکټونه راغی اوپه نازیا نو کی څلک ته تاوان ورسول .په دی وخت کی ملګری جنرال لودین د خپل قرارګاه څخه ووت اوټول تیارسی شوی عسکری جزوتامونو اومربوطه قوماندانانو ته داسی قومانده ورکړ : ملګرو قوماندانانو او سرتیرو دپاکستان په طرف اور په ډله کی .وروسته د دغه قوما ندی څخه تقریبآ تر څه کم یوه ساعت ددی افغانی قوماندانانو له طرفه دپاکستان په لوری په پرله پسی توګه سره دمختلف النوع سلاح ګانو سره ډزی وشو اوما داسی فکر کاوه چی لکه د مرمیو ګدام اوراخیستی اوددی ګذارونوآواز دومره لوړ وه چی ما تر یو ی هفتی پوری ښه نشو اوریدلی ، په هرصورت وروسته له دوه دری ساعت زه اوزیارمل بیرته جلال آباد ته راغلو ، او پرسبایی دغرمی نه وروسته مو واورید چی ددیورند دکرښی د هغه غاړی خلک دقران سره په ننوات راغلی وه اودلودین صیب نه تقاضا کړی وه چی مونږ نور پاکستانی نظامیان نه پریږدو چی دی خواته راکټونه ګذار کړی ( تاسف په دی اوسنی رژیم شی چی دکنړ دخلکو پر حال نه ژاړی اونه هم کوم امنیتی ګام پورته کوي ).

دو هم :دداکتر شهید نجیب الله تر قوماندی لاندی دجلال آباد جګړه کوم چی د تاریخ په پاڼه کی به په زرین کرښه ولیکل شی تاسو ټولو ته معلوم دی چی دغه بی ننګ افغانی مجاهیدین چی دهغو تر شا دپاکستان پوځ او د پاکستان د (آی اس آی ) جهنمی سازما ن غړی هم وه ،څرنګه دننګین ماتی سره مخامخ شو چی خپل مړی ونشو کړی چی دجنګ له میدان څخه پورته کړی اوپه شرمو سره وشرمید ل ، کوم چی د جلال آباد د جنګ تفصیل د (داکتر نسرین کتونا) په مقاله کی توضیح شوی اولازم نه دی چی دلته توضیح شی .

بل شی چی با ید دلته په ذکر ورسو هغه په افغانستان کی داحزابو لړلید د پاکستا ن دمداخلاتو په اړه دی اوهغه داچي:مخکی له هرڅه باید دلته په ډاګه شی چی په افغانستان کی اکثر احزاب او ګوندونه قومی ، ناسیونالیستی اومذهبی پا یی لری او په افغانستان کی هیڅ یوه ګوند یا پارتی نه ترسترګو کیږی چی هغه ګوند په ایدیولوژیکی لحاظ دمعاصر لړلید په لرلو سره خپل غړی سمبا ل کړی اوسی ، یاداچی دافغانستان ډیری ګوندونه دهغه درهبرانو د موقف دلا غښتلی کیدو دپاره په هحه اواند کی دی ،دلته داهم باید روښانه شی چی په افغانستان کی دکیڼ اړخو اندیښنو کسان یاد افراطی اسلامګرایانو له ډاره اویاد داقتصادی کمزورتیا اویا دشرایطودنه مساعد والي په نسبت چُپ او خاموش دی یاداچی دنریوال ملاتړ په نه لرلو سره نه غواړی چی د مبارزی په ډګر کی ښکاره شی ، ګرچه په افغانستان کی دهغو دفعالیت دپاره زمینه دومره تنګ اومحدود هم نه دی اوداځکه چی عامه خلک دحزب دموکراتیک خلق دواکداری دوران ددی موجوده حالت سره په پرتله کی ښه ارزیابی کوی او په کراتو کراتو وایی چی د نوموړی حزب غړی

بډی نه اخیستل ، د خلکو دارایی نه چورول ، ملی ګټی د خپل له ګټو څخه پورته ګڼل او هیڅکله پردیو ته اجازه نه ورکول چی د افغانستان تمامیت عرضی ته تاوان ورسوی مثلاً دبیلګی په بڼه تاسی کولای شی چی دجلال آباد جنګ په یاد راولی همغه حزب ، همغه دولت څرنګه وشو کړلی چی د افغانستان د خلکو په مرسته اوپه ګډون دمتجاوز پاکستان مخ په خاوروکی ولړل او دجبهی په مقدمه لیکه کی افغانی جهادیان څنګه ترشا شو او د پاکستان دولت ته وویل چی مونږ دافغانستان دپوځ سره نشو جنګیدلی او د پوره ماتی سره مخامخ شو . نه غواړم چی له موضوع څخه د باندی ووځم مګر یوشی چی دلته باید ذ کر شی هغه دادی چی د افغانستان (ح.د.خ.ا) د مخکینی شوروی اتحادسره دنړیوال علمی جهان بینی په لرلوسره له یوی خوا او د بلی خوا د اقتصادی د مرستو دترلاسه کولو په وجهه ډیر نژدی اړیکی درلود اویا داچی دغه ګوند په هراړخیز بڼی سره دهغه هیواد تر تاثیر لاندی وه چی هیڅ څوک له دی حقیقت څخه انکار نشی کولای اود (ح.دخ.ا) همدغه اشتباه اوخطاوه چی سره دړی وړی شو ،مګردجلال آباد په جګړه کی دغه حزب اودداکتر شهید نجیبالله دولت کاملاً مستقل او دشوروی اتحاد دتسلط څخه وتل یوه ځواک وه اومحترم داکتر نجیبالله دخپل آزاد دولت پالیسی یی د شوروی اتحاد د محدود نظامی قطعالتو دوتلو څخه وروسته هغه ورخ د ملی ورځ به نامه سره ونومول چی ټولو ته څرګند دی اوپه همدی بنیاد وه چی شوروی اتحاد د داکتر نجیبالله دنسکورولو دپاره ربا نی (د افغانستان د جمیعت د حزب مشر) مسکو ته دعوت کړ او دهغه سره دهراړخیز مرستی وعده ورکړ اووروسته همدغه مسکو وه چی دجمعت سره یوځآی پکار پیل وکړ د(ح.د.خ آ) په مینځ کی یوڅو سکتاریست ډلی ټپلی د محمود بریالی په سرکرده ګی په تفرقه اچولو پیل وکړ د پارټی غړی د نجیب الله په مقا بل را وهڅول ، رشید دوستم د بریالی په امر داحمدشاه مسعود سره نژدی شو اوپه دی بنیاد د نجیبالله ددولت اقتدار ته تاوان ورسول او په تتدریجی بڼی سره شورای نظار اود جمیعت دحزب دراتګ دپاره په کابل کی سره غالی وغړول .

دلته باید یاد کړوچی دافغانستان ټول خلک اوبیاهم همدغه قومی تنګ نظرناسیونالیستی احزاب او ګوندونه له دی نه چی پاکستان دافغاتنستان په چاروکی ښکاره تیری اومداخله کوی دی ته اړ شوی چی خپل ضد یت د پاکستان ددولت په وړاندی ښکاره کړی که نه تر پرونه پوری همدوی په ډاګه ویل چی پاکستان زمونږ ورور دی اومونږ ته دجهاد په وخت ،سرپناه ، ډودی او ... راکړی دی ، په عین زمان کی دلته په افغانستان کی ځنی ژبنی ناسیونالست ډلی ټپلی دی چی په غیر شعور اویا په شعوری بڼی سره وایی چی ډیورند کرښه مونږ ته ناسور دی اودغه خط با ید د افغانستان د دولت اودخلکو له خوا دافغانستان اود پاکستان تر مینځ دیورسمی سرحدی خط به بڼه وپیژندل شی .ځما خطاب دغه سکتاریستی ډلو ټپلو ته دادی چی که چیری د افغانستان دولت د تاسو په خوښه دغه خط په رسمیت هم وپیژنی نو په آینده کی به دافغانستان ستونزی حل شی ؟ ایا تاسی هیره

کړی چی افغانستان یو محاط په خشکه هیواد دی ، ایا تاسی چی اوس لا ددیورند خط په رسمیت سره نه پیژنی ، پاکستان هره ورځ چی وغواړی دتورخم بندر پرافغانستان تړی اویاداچی دافغانستان د تجارتی مالونو پرترانسپورت باندی دخپل خوښی ګمرکی محصول زیاتوی ، ایا کله چی تاسی دغه خط په رسمیت سره وپیژنی نو پاکستان به پر افغانستان باندی دغه بندر نه بندوی اودافغانستان اقتصاد ته تاوان نه رسوی . هوکی تاوان رسوی . مګر دا دستا سوناسا لم اند بینښه دی چی بی دکوم امتیاز دترلاسه کولو دپاره چمتویاستی چی دغه خط په رسمیت سره وپیژندل شی اوهغه دچا خبره ږیره ځما او واک یی د ملا ( پریږدی چی ددیورند دخط ددواړو خواو خلک دافیصله وکړی چی څه باید وکړی ) نه دا تاسو پوچ مغزو او لنډ بارو چی حتی ځان ته افغان نه وایاست او په ډیر افتخار سره ځا نته افغانستانی واییی ( تاسف پرتاسو ) .
بل شی چی دلته باید پرهغه باندی تم شو هغه دادی چی زمونږ دوطن دغلیمانو د میزونو پرسر دافغانستان دتجزیه کیدو نقشی پراته دی اوټول غلیمان په دی هڅه کی دی چی په څه شان سره ددغه هیواد طبعی منابعو ته لاس رسی پیداکړی ، که افغانستا ن دجیو ایکونومیک ،جیوستراتیژیک اود جیو پولیتک له مخی اهمیت نه درلودل ،نو د نړی دغه (۴۸) هیوادونو اودهغو په سر کی د امریکی متحده ایالات څه کول چی دی ملک ته راشی او خپل پیسی ولګوی اوخپل سرتیری دلاسه ورکړی ، ایا پانګوالی د خپل ګټی دخوندی کولو اود زیا تی ګټی دتر لاسه کولو دپاره بی له جنګ او شخړی څخه بل کوم هدف اومرام لری؟ ، ایا سرمایه داری بی له جنګ اوجګړی څخه ژوندی پاتی کیږی ؟، ایا سرمایه داری دامنلی شی چی چین ، هند او روسیه دلوړ اقتصاد څښتنا ن شی؟ اویا دامریکی دمتحده ایالاتو پر اقتصاد باندی مټ واړوی؟ ، ایا تا سی دسرمایه داری دمینځ تضادونه او اختلافات دمارکیت دترلاسه کولو په اړه باندی معلومات نه لری؟ ا و هغه داچی هرپانګوالی هیواد دخپل مالونو دخرڅلاو دپاره ځانته مارکیټ پیداکوی چی دا پخپله کاملاً یوعلمی نظریه دی . نو ددی پورتنیو یادونو څخه منظور دادی چی افغانستان د آسیا د لوی وچی په داسی یوځای کی موقیعت لری چی هم دهند دنیمی وچی اوهم دمرکزی اسیا په دروازه اودرشل کی پروت دی،یعنی هغسی یوځای کوم چی دمخکینی امپراتورانو اوهم داوسنی پانګوالی قوتونو درقابت اود سیالی کولو مهم سیمه بلل کیږی .
نودلته په افغانستان کی باید داسی یو دولت مینځ ته راشی چی وشی کړی د یو ملی پالیسی په لرلو سره دافغانستان ددغه طلایی موقیعت په لرلو سره دافغانستان د خلکو ګټی ترلاسته کړی نه یومفسد دولت چی دافغانستان چاری پخبل لاس کی واخلی اودخپل ګټی دترلاسه کولو دپاره ملی ګټی له پامه وغورځوی لکه ننی جهادی ، مفسد اوشرمیدلی دولت .
**۵- څه باید وکړو ؟**. زمونږ ګران هیواد افغانستان د تاریخ په ډیر یو حساس پړاو

کی قرار لری ،خارجی قوتونه ددی کال په اخر کی له افغانستان څخه وځی ، دامریکی متحده ایالات غواړی دخپل یومحدود شمیر نظا میا نو سره دافغانستان په دننه خپل اډی (قرارگاه) کی اووسی ، زمونږ پوځ برسیره پردی چی اکادمیک پوهاوی اویا ښه جنگی مهارتونه نه لری نو په عین وخت کی لازم اوضروری جنگی وسایل ( جنگی الوتکی ، زهرهدارټاکونه او .....) او مهماتو ته هم لاس رسی نه لری ، حکومت د یو جهادی متعصب بیرته پاتی ،مفسد ، غاصب ، خود محور ما فیا یی اوله خلکو څخه جدا په لاس کی دی ، یعنی دهغه چا په لاس کی چی دوی پخپله دجهاد په وخت کی د افغانستان ټول زیربنای تاسیسا ت او نهادونه یی پخپل مینځی جګړوکی دپاکستان اودایران اودنورو دښمنانو په لمسون د خا وری سره خا وری کړل ، او د افغانستان ټول شتمنی یی لوټ اودنړی په بانکونو کی ځانته سرمایه سپما کړ او لا تر اوسه لگیا دی دافغانستان دارایی ، بانکونه ، خمکی ، دخلکو کورونه لوټوی ، اوځانته او خپلو خپلوان ته ژوند جوړوی . وطن کی تولیدات صورت نه نیسی ، صادرات نه لرو ، واردات مو زیات دی ، د پوځ مصرف او معاشات دامریکی ددولت له خوا ورکول کیږ ، نوپه لنډه توگه سره باید ووایو چی مونږ افغانان نه سیاسیی اونه هم اقتصادی استقلال او آزادی لرو ، داسی یو هیواد چی محاط په خشکه اوزمونږ د کدایی لاس دپردو په طرف اوږد دی ، سربیره پردغه ناخوالی ، خپله افغانان پخپلو مینځو کی یودبل نظر نشی زغمولی یعنی هر څوک وایی چی زه یم ، غیرت ، هیوادپا لنه ، او ...... سره ټول بیگا نه شوی دی ، نو د دی پورتنی پرابلمونو په لرلو سره څنگه کولای شو چی دحل لاره خپل کړو:

مخکی له هرڅه دټول نوی اقداماتو په سرکی باید چی دغه فساد پیشه ،مافیایی ،جهادی متعصب او بی فرهنگ دولت رنگ کړشی اودهغه پرځای یو دخلکو واقعی خدمت گار دولت مینځ ته راوړل شی داسی یودولت چی دهغه قاعده پراخ وی او دهغه مجریان اکادمیکی پوه اودولتمداری ولری دگډوډی اوانارشیزم په مقابل کی وجنگیږی ، په دی باندی ځان پوه کړی چی قدرت ورته خلک ورکړی اوله خلکو څخه باید وډارشی چی که هغو ته خدمت ونکړی له قدرت څخه ولویږی ، داسی یو دولت چی دخپل خلکو په خواستو باند ی ځان پوه کړی ، دخلکوسره نژدی اړیکی وساتی اوکم ترکمه دغه لاندی لس اوصاف ولری :

لمړی : دهیواد ازادی ، استقلال او تمامیت ارضی باید په کلکه سره وساتی اوهیچاته اجازه ورنکړی چی دوطن په قلمرو کی پردی لاس وهنه وکړی .

دوهم : خلکو ته دکار اودشغل زمینه چمتو کړی .

دریم : دوطن بچیانو ته بی دفیس اودتکس په ورکول دتعلیم اودتربیی اسانتیاوی برابرکړي ، اود سواد آموزی روند ته پراخوالی ورکړی .

څلورم : دمتقاعدینو وضع ته خاص پاملرنه وکړی اودهغوی ددرناوی دپاره لازم شرایط مهیا کړی ، اوداځکه چی دمشرانو احترام اودرناوی دافغانستان دفرهنگ یوله ډیر عمده

عناصرو څخه شمیرل کیوی .
پنځم : دعامه خلکو روغتیای حالت ته پام واړوی یعنی دعامه خلکو د پاره روغتیایی خدمات چمتو کړی ترڅو چی خلک بی له کوم تفاوت روغتیایی اسانتیاو ته لاس رسی ولری .
شپږم: دعامه خلکو دپاره ترانسپورتی خدمات برابرکړی .
اووم : دخلک دپاره ارتباطی خدمات او communication مساعد وګرځوی اوپه دی برخه کی باید لازم سرمایه ګذاری وکړي .
اتم : دعامه خلکو دپاره دهغو د ضرورت دتامینول دپاره باید دبرق اودانرژی دتولیدیدو تاسیساتو ته وده ورکړی .
نهم : دهیواد دپرمختګ اودخلکو دراتلونکی هوسا ژوند دپاره لازم اقتصادی پروژی په نظر کی ونیسی اوبی له ځنډه ددی ډول پروژو د پلی کولو دپاره ماهران او کارکشته خلک پکار وګماری .
لسم :دتوتالیتاریزم په وړاندی وجنګیږی اوپرینږدی چی لکه اوس هر سړی اوهر ډلی ټپلی هرڅه چی وغواړی هغه ترسره کړی .
ددی پورتنی غوښتنو پلی کول چندان اسان هم نه دی اوددی خواستو د پلی کولو د پاره سربیره پردی چی دیو وګړنی دولت درامینځته کید و ضرورت حتمی بولی نو د همدغی دولت په څنګ کی دیو قوی ، په نړیوال جهان بینی سره مجهز اپوزیسون موجودیت ته هم ضرورت لیدل کیږی .
یوبل شی چی دافغانستان دپاره په اوسنی حالاتو کی ډیر ضروری اقدام شمیرل کیږی هغه دادی چی سیاست اوسیاست بازی له ملا څخه باید ونیول شی اوملایانو ته په هیڅ بڼه دا اجازه ورنکړل شی چی د مسجد د منبر د پا سه مقتد یا نو ته سیاسی خبری وکړی کوم چی خپله یا په سیا ست نه پوهیږی اویا دا چی دغلیم او د پردیو له خوا ورته هدایت ورکړی شویی چی خلکو ته د هغو هدایت اشاعه کړی ، ګرانو وطنوالو راځی چی په ډیر پراخ بینی سره ووایو چی زمونږ وطن دتاریخ په اوږدو کی ایا دملایانو په لاس وهنو سره نه دی ویجاړ شوی ، ایا همدغه ملایان یا همدغه د شوربازار حضرتا ن او پیران دامیر امان الله خان اصلاحی پروګرامونو دتحقق په لار کی خنډ نشو ایا همدغه ملایان دنواز شریف په هدایت سره دافغانستان سل کلن پوځ یی دړی وړی نکړل اودکابل ښاریی په کنډوالو بدل نکړل او د کابل (۶۰) زره ښاریان یی قتل عام نکړل ،سرمو په ګریوان کړی ولی دافغانستان د ښمنان نه پیژنی ولی دغه بی فرهنګ او اجیر ملایان پرځای نه کینینوی ، د تاسف ځای دی چی بیا همدغه ملا او ملا زاده ګانو ته رایی هم ورکوی چی د تاسو پرسر حکومت وکړی ، زه نه پوهیږه چی څه وخت به خدای مونږ ته عقل راکړی چی دغه دپرمختګ عاملان دخپل مخی څخه لیری کړو .
دموضوع څخه لیری نه ځوو: ستاسو پام دبناغلی (عبدالباقی امین ) دسیمیزستراتیژیک

مطالعاتو دریس مقالی اولیکنی ته راجلبوم ، ترڅو  چی دهغه د مقالی محتویات  ته  پام واړوی  اودهغه په رڼا کی دافغانستان دموجوده ستونزو دحل په لاره باندی فکر وکړی .

په درناوی .